بسم الله الرحمن الرحيم

# د قوانینو لغوه کېدل

## افغانستان په نړیوالو سازمانونو کې د غړیتوب له لاسه ورکولو، له ګواښ سره مخ دی

افغانستان په وروستي شل کلن پړاو کې د ډېرو ناخوالو او کړکېچونو شاهد و همدا راز د افغانستان په دغه شل کلن پړاو کې لاسته راوړنې هم باید له یاده ونه ویستل شي. په اداري او تقنیني برخو کې د افغانستان دوو وروستیو لسیزو ته په کتنې سره افغانستان د ډېرو نړیوالو معاصرو سازمانونو غړیتوب تر لاسه کړی. په اوسني وخت کې هېوادونه په معاصرې تکنالوژۍ سره ډېر نږدې دي په همدې بنسټ په بېلابېلو برخو کې نړیوال کنوانسیونونه او سازمانونه په نړیواله برخه کې رامنځته شوي تر څو هېوادونه د یو بل په مرسته خپلو مراوداتو ته په حقوقي، تجارتي او اقتصادي برخه کې دوام ورکړي.

افغانستان د ځمکې پر مخ یو خپلواك هېواد دی چې د مونته ویدئو کنوانسیون ۱۹۳۳ ز کال پر بنسټ د یو دولت خصایص ( قلمرو، نفوس او حاکمیت ) لري که څه هم د افغانستان حکومت د اسلامي جمهوریت نظام له نسکورېدو سره لاینحل پاتې دي او اوسني حاکم نظام د نړیوالو لخوا په رسمیت ندي منل شوی، په داسې حال کې چې په ډېرو هېوادونو کې د پخواني حکومت (اسلامي جمهوریت ) سیاسي او حقوقي استازولی رسمیت لري چې د نړیوالو قواعدو او قوانینو پر بنسټ کیدای شي دغه هېوادونه په غیر رسمي ډول د اسلامي جمهوریت حکومت ته د جلا وطنه حکومت په آند او لید سره معتقد وي.

غواړم په دې لیکنه کې چې (د قوانینو لغو ه کېدل افغانستان په نړیوالو سازمانونو کې د غړیتوب له لاسه ورکول له ګواښ سره مخ دی ) تر عنوان لاندې ده په دغه اړه بحث راونغاړم چې څومره افغانستان د وروستیو شل کلنو قوانینو د لغوې په صورت کې په نړیوالو سازمانونو کې د تجرید زهر څکي او د غړیتوب د له لاسه ورکولو ګواښ سره مخ ده.

هره ټولنه د عصر مطابق د خپلو اعتقادي، اقتصادي، فرهنګي، عرفي او نړیوال عمومي میثاقونو پر بنسټ او کتې‌اخیستنې سره د ټولنې د سمبالتیا لپاره په مدون او وضعي شکل قوانین وضع کوي، البته په هغو ټولنو کې چې د هغو تقنیني سرچینو د هغو د اعتقاد پر بنسټ وي، لکه

افغانستان چې د تقنین لمړنۍ سرچینه یې اسلامي شریعت دی، او د هغه مصداق د افغانستان د ۱۳۸۲ هـ ل کال د اساسي قانون دریمه ماده ده چې تصریح کوي:

(په افغانستان کې هیڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپیڅلي دین د معتقداتو او احکامو سره مخالف وي ).

پدغه بنسټ په افغانستان کې قوانین له اسلامي فقهې نه په کتې اخیستنې سره وضع شوي دي، او دغو قوانینو ته مدون قوانین ویل کیږي که څه هم ځینې د افغانستان دغو قوانینو ته وضعي قوانین نوم کاروي چې دا نوم اشتباه ده، ځکه چې وضعي قوانین د بشر له ذهن نه وضع کیږي په داسې حال کې چې د افغانستان قوانین د اسلام له سرچینو نه په الهام سره د مادو په شکل تدوین شوي دي.

د افغانستان قوانین څه د پاسه یوه پیړي کیږي مدون شوي، څه نا څه (۵۰) نظامنامې د غازي امان‌الله خان په پادشاهۍ کې وروسته له خپلواکې نه تدوین او نافذ شوي دي.

پاچا امان‌الله خان چې کله واک ته ورسېد، د سیاسي سمونونو په موخه یې په ۱۳۰۲ هـ ل کال کې د افغانستان د شاهي لوړ دولت د اساسي نظامنامې تر عنوان لاندې یو تقنیني سند نافذ کړ چې د افغانستان په تقنیني تاریخ کې لومړني اساسي قانون بلل کیږي؛ لکه څرنګه چې مخکې مو یادونه وکړه سره له اساسي نظامنامې (۵۰ ) نورې نظامنامې د ټولنې له اړتیا سره سم له هغه عصر سره سم په عامه او خصوصي برخو کې په ځانګړي ډول اداري، قضایي، مالي برخو کې وضع او نافذ شوي وي..

د افغانستان مدون قوانین اوسمهال د طالبانو په حکومت کې چې ډېری یې د تطبیق وړ نه دي که څه هم په صراحت ډول سره د طالبانو د حکومت له لوري د هغو د لغوې اعلان نه دی شوی خو اوسمهال په اداراتو او قضایې ارګانونو کې د تطبیق وړ هم نه دي، همدا راز تېر کال د تله میاشت ۲۱مه کې د طالبانو مشر مولوی هیبت‌الله اخند یو غږیز پیغام کې دغو قوانینو ته اشاره کړې او همدا راز په دې اړه په هغه اعلامیه کې چې د طالبانو ویاند ذبیح‌الله مجاهد په خپله ټویټر پاڼه کې خپره کړې راغلي، د دوی مشر ټینګار کړی چې قوانین باید د اسلامي شریعت پر بنسټ پلي شي او د انسانانو په لاس جوړ شوي قوانین نه‌شي پلي کېدلی.

په داسې حال کې چې د افغانستان قوانین له شریعت سره په ټکر کې نه دي، دا سمه ده چې د افغانستان مدون قوانین پرته له حنفي فقهې له نورو اسلامي مذاهبو نه په کتېه‌اخیستنې سره وضع

شوي دي او ځيني مسايل په عامه توګه له اسلامي شريعت سره برابر مصالح مرسله، استحسان، سد الذرايع اسلامي منابعو نه په ګټه‌اخيستنې سره وضع شوي دي.

همدا راز ځيني قوانين خصوصاً په دې وروستيو شلو کلونو د جمهوريت کې د نړيوالو ستندردونو او ميثاقونو البته د افغانستان د تقنيني مصادرو ( اسلامي احکام، سالم عرف، او... ) مسايلو په پام کې نيولو سره وضع شوي او د دغو قوانينو له وضع کېدو سره سم افغانستان د نړيوالو سازمانونو غړيتوب په حقوقي، اقتصادي، تجارتي، تکنالوژي او په نورو بېلا بېلو برخو کې لاسته راوړې دي، دا لاسته راوړنې څو ساده مرحلې نه وې؛ بلکې ډېرې ستونزمنې او له مشکلاتو نه ډکې وې، دغو نړيوالو سازمانونو د نړيوالو ميثاقونو پر بنسټ لومړی يو هېواد چې د غړيتوب غوښتنه ولري شرايط او (Dateline ) مخکې کوې تر څو د هغو د تر سره کولو او ارزونې سره وروسته بيا د غړيتوب چانس ورکول کيږي چې له هغه بېلګې شرايطو نه يو هم د قوانينو اصلاح او وضع کېدل په ټولنه کې دي.

په دې ليکنه کې غواړم د بېلګې په ډول څو قوانينو ته په اشارې سره دغه ادعا ثابته کړم چې وروستني شل کلن قوانين چې په افغانستان کې وضع شوي د لغوې په صورت کې به دغه هېواد څومره د نړيوالو سازمانونو غړيتوب له لاسه ورکوي او يا به د تعليق په حالت کې د تجريد په نړيوال انګړکې نور هم کوښه کيږي.

د بېلګې په ډول که چېرې د افغانستان د پيسو وينځلو قانون لغوه شي افغانستان د پيسو د معاملاتو او د بانکي سېستمونو له تحريم سره نور هم تجريد او کنګل خواته ور درومي لومړی دغه قانون د (IMF ) (د پيسو د نړيوال صندوق ) سره کړښه ده البته د پيسو، حوالې او بانکي سپينو پيسو سېستمونه د دغه قانون او له دغه نه د وضع شويو مقررو له مخې د ( پيسو د نړيوال صندوق ) له خوا په افغانستان کې د اطمينان څېړنه او ارزونه کيږي او د افغانستان د جزاء کود کې که چېرې څوك د پيسو وينځلو جرم مرتکب شي د هغه مجازات ځانګړي شوي، که چېرې دغه دوه ياد شوي قوانين ملغا شي افغانستان په بانکي معاملاتو کې لا نور هم تجريد او کنګل خواته وردرومي.

د افغانستان بانکي سېستمونه هسې هم له ګړنګ سره مخ دي نو د يادو قوانينو لغوه کېدل په نړيوال بانکي سيستمونو کې او د (IMF ) په نړيوال قوانينو کې افغانستان د تجريد خوا ته بيايي او کيدای شي چې افغانستان د دغه صندوق غړيتوب له لاسه ورکړي او آن د دغه نړيوال صندوق له تحريمونو سره به لا ډېر مخ شي، ولې چې د پيسو وينځلو جرايم په اوسني وخت کې د

هېوادونو له پولو اوړي، توري پيسې په قاچاق سره بهر ته د جرم د ارتکاب له هېواد نه لېږدول کيږي او سپينېږي چې د پيسو د نړيوال صندوق(IMF ) له کنترولي معيارونه سره په ټکر کې ده.

د پيسو نړيوال صندوق (IMF ) څه ډول سازمان دی، د دغه سازمان پرېکړې د بېلابېلو هېوادونو پر اقتصادي وضعيت ډېر اغېز لري، دغه سازمان کې ډېری هېوادونه غړيتوب لري چې موخه يې نړۍ کې اقتصادي ټيکاو رامنځ ته کول دي.

هر هېواد په ياده اداره کې د غړيتوب وړانديز کولی شي، خو که له شرايطو سره يې برابر وي.

همدا راز د افغانستان غړيتوب نړيوال سوداګريز سازمان ته په ۲۰۰۵ ز کال کې غوښتنه کړې وه او د ناظر په توګه حق ورکول شوی وه، د ناظر حق د غړيتوب مقدمه ده؛ هر هېواد که غواړي په دغه نړيوال سازمان کې شامل شي دغه هېواد مکلف ده څو په خپلو سوداګريزو قوانينو کې اصلاحات د دغه سازمان له لارښونو سره سم راولي چې افغانستان د ګمرکاتو په قانون کې په ځانګړي ډول په ګمرکي تعرفو کې د قانوني اصلاحاتو بېلګه د افغانستان د غړيتوب چانس برابر کړل.

دغه سازمان وروسته د افغانستان له ارزونې په ځانګړي ډول د سوداګرۍ، صنعت او پانګونې په برخه کې په معياراتو سره برابر د قوانينو وضع کېدل په افغانستان کې دې ته اړ شو چې د نوامبر مياشت ۲۰۱۵ ز کال کې د افغانستان غړيتوب تصويب او ومني، نو په دغه صورت کې که چېرې د خصوصي پانګونې قانون، د ګمرکاتو قانون، د سوداګريزو شرکتونو قانون، د سوداګريز حکميت قانون، د سوداګريز منځګړيتوب قانون، د سوداګريزو قراردادونو قانون او داسې نور د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې قوانين لغوه شي د افغانستان غړيتوب به په نړيوال سوداګريز سازمان کې کېدای شي د لاسه ورکړو او يا به مو غړيتوب وځنډول شي.

د افغانستان د پلټنې د اداري قانون د پلټنې نړيوال سازمان ( International Orgnization Of Supreme Audit ) يا(INTOSAI ) پر بنسټ جوړ شوی دغه سازمان د پلټنې لپاره معيارونه وضع کوي، افغانستان د دغه سازمان غړيتوب لري که چېرې د تفتيش قانون لغو او يا بل قانون د دغه سازمان له معياراتو پرته نافذ شي د افغانستان غړيتوب به په دغه سازمان کې له ګواښ سره مخ شي.

په دغه قانون کې درې ګونو پلټنو يا تفتيش ته د (INTOSAI ) د معيارونو پر بنسټ ځای ورکول شوی، چې دغه پلټنې عبارت دي له (مالي پلټنه، د کړنو پلټنه او د تقنيني سندونو د رعايت پلټنه ) چې دغو درې ګونو ذکر شويو پلټنو ته ياد سازمان معيارونه وضع کړي دي.

مخکې یادونه وشوه چې د پلټنو له ډلې یو هم د تقنیني سندونو د رعایت پلټنه ده چې اوسمهال د پلټنې په عالي اداره کې اصلاً په راپورونو کې د قانون مادې منحیث د معیار شتون نه لري او نه لیکل کیږي چې د تقنیني سندونو د رعایت پلټنه بیا مانا نه لري چې دا کړنه د پلټنې نړیوال سازمان ( INTOSAI ) له (ISSAIS ) ایسای ۴۰۰ معیارونو سره سمون نه لري؛ چې له بده مرغه د افغانستان غړیتوب کیدای شي له ګواښ سره په دغه نړیوال سازمان کې مخ کړي.

په پایله کې د دري ژبې متل ته اشاره کوم چې وایي: (مشت نمونهٔ خروار) که چېرې د افغانستان شل کلن هر یو قانون راوسپړو هغه یو نړیوال سازمان پورې تړاو لري بیا هم د یادونې وړ او اړینه خبر ده چې په شلو کلونو کې په افغانستان کې جګړې، ناامنې او اداري فساد شتون درلود خو په دغه شلو کلنو کې لاسته راوړنې هم په نړیواله سطح په ځانګړي ډول د نړیوالو سازمانونو د غړیتوب په برخه کې باید سترګې پټې نه شي، دغه لاسته راوړنې د حکمتونو میراث نه دي بلکې د افغانستان د مظلوم ملت لاسته راوړنې دي له دغو لاسته راوړنو سره سطحي، سلیقوي او بې له مسولیته برخورد عادلانه نه ده ولې چې افغانستان لا نور هم د تجرید تیارو کې د ظلمت کندې ته ورغورځوي.

لیکونکی: دکتور محمد ظریف علم (ستانکزی)